NHS | UK Health Security Agency

# ستاسو د ماشوم د واکسینو مهالویش



## 8 اونۍ

- د 6 په 1 کې واکسین*
- د روټا ویروس واکسین*
- د منيګوکوکل B واکسین*



## 12 اونۍ

- د 6 په 1 کې واکسین**
- د نیوموکوکل واکسین*
- د روټا ویروس واکسین**




## 16 اونۍ

- د 6 په 1 کې واکسین***
- د منيګوکوکل B واکسین**




## 1 کال

- انفلونزا د هیموفیلوس د b ډول/ منيګوکوکل C واکسین*
- د شري، ډېبغوني، روبيلا واکسین*
- د نیوموکوکل واکسین**
- د منيګوکوکل B واکسین***



## +2 کاله

- د ماشومانو د انفلونزا واکسین (هر کال)



## 3 کاله او 4 میاشتې

- د شري، ډېبغوني، روبيلا واکسین**
- د 4 په 1 کې تر ښوونځي وړاندې پیاوړي کوونکي واکسین

* لومړی ډوز، **دویم ډوز، *** درېیم ډوز

د 6 په 1 کې واکسین د ډيفتېريا، تيتانوس، تور ټوخي يا سياه سرفې، پوليو، انفلونزا د هيموفيلوس د b ډول او هيپاټيټ B پر وړاندې خونديتوب رامنځته کوي.

د 4 په 1 کې واکسین د ډيفتېريا، تيتانوس، تور ټوخي يا سياه سرفې او پوليو پر وړاندې خونديتوب رامنځته کوي.

د خپل ماشوم د واکسینو مهالویش وڅارئ چې هغوی د ناروغۍ پر وړاندې خوندي کړئ.

دا مهالويش د يوه مهم يادښت په توګه سريښ يا ځوړند کړئ



- د ماشومتوب ناروغۍ لکه شری یا سرخکان او تور ټوخی یا سیاه سرفه په زیاتېدو دي
- دا ناروغۍ ماشومان ډېر ناروغ کولی شي، د روغتون تر بسترۍ یې رسوي یا د ټول ژوند لپاره د ستونزو سبب کېږي
- که مو ماشوم واکسین نه وي کړي، خوندي نه دي
- دا مهمه ده چې د غوره خوندیتوب لپاره واکسین پر وخت ورکړل شي. ځینې بیا وروسته پیاوړي کوونکو یا بوسټر ډوزونو ته هم اړتیا لري.
- د خپل ماشوم د روغتیا شخصي سوابق (سور کتاب) وګورئ یا له خپل عمومي معالج (GP) سره خبرې وکړئ چې کوم واکسین یې پاتې دي که نه
- تاسو اوس هم کولی شئ ډېری پاتې شوي واکسین اوس وکړئ
- د ماشومتوب ټول واکسین وړیا دي. ماشومان چې لویېږي، تر دې چې د نوي ځوانۍ سن ته رسېږي دوی ته به نور واکسین ورکړل شي. ځینې واکسین په ښوونځي کې ورکول کېږي.
- هغه واکسین چې د NHS له لوري ورکول کېږي، اغېزناکتیا او خوندیتوب یې پوره ازمویل شوی. ټول درمل جانبي عوارض لري، خو واکسین یې د تر ټولو خوندي هغو له ډلې دي.
- د ټولې نړۍ په کچه څېړنې ښیي چې واکسین کول د ماشوم د روغتیا ساتلو لپاره تر ټولو خوندي لار ده.

## ایا ستاسو د ماشوم واکسین تر خپل وخته پوره شوي؟

## همدا اوس له عمومي معالج سره د واکسینو وخت ورته ونیسئ

CHIMMS24PC

© Crown copyright